SHARIAT weekly
شریعت
اوونیزه
په اوونی کي دوه ځله خپریږي
دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارگان
شپږم کال ۳۲ مه گڼه پرله پسې(۴۱۲) یکشنبه د۱۴۲۲ هـ ق کال د صفر المظفر(۱۹)
د ۱۳۸۰ هـ ش کال د غويي دمیاشتي(۲۳) د ۲۰۰۱ میلادي کال دمی (۱۳)

الهی فرمان
عدل (انصاف) وکړئ؛ تاسي ؛ همدا (عدل) دیر نژدي دی تقوا(پرهیزگاری) ته.
(سورة المائدة)

توجه!
ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بي حرمتي بگذارید.

بزودی جاده ۱۳۲ کیلومتری اسلام قلعه-هرات قیرریزی میگردد

کابل - شریعت :
عنقریب کار قیر ریزي جاده اسلام قلعه - هرات که طول آن ۱۳۲ کیلومتر میباشد به کمک مالی وتخنیکي موسسه کمک هاي انساني وفا از سرگرفته مشود .
محترم ابومعاذ مسئول دفتر کابل موسسه خیریه متذکره ضمن تایید این مطلب به خبرنگار ماچنین اضافه داشت : تطبیق این پروژه که مدت یکسال را در برخواهد گرفت قرار است ۲۵ روز بعد کار آن آغاز گردد ؛ این درحالیست که قبلاً در زمینه با وزارت خانه هاي پلان وفواید عامه امارت اسلامي تفاهم صورت گرفته و تمامي سامان آلات و وسایل تخنیکي این پروژه از بازار تجارتي دوبي خریداري وطي چند روز آینده از طریق کشور ایران به شهر هرات مواصلت میورزد. وي افزوده : براي تطبیق و انجام این پروژه از جانب موسسه یاد شده ۵- ۱۰ ملیون دالر امریکایي تخصیص داده شده که با از سرگیري کار آن براي هزاران تن از هموطنان ما زمینه کار وفعالیت فراهم خواهد شد . مهربان

په دروننته کي دکبانو دروزني دپروژي دبیا جوړولو کار پیل شو

ننگرهار -باختر :
ددروننتي دکبانو دروزني او تولید دپروژي دبیا جوړولو کار پرون دکرنې او مالداري وزارت دمعین محترم مولوي عبدالسلام سعادت لخوا پیل شو .ددروننتي دکبانو دتولید پروژه چي دهیواد دسترو تولیدي اوتولگټو تاسیساتو له جملي څخه ده دتېرو ناوړو پیښو له امله ویجاړه او له فعالیت څخه لویدلي وه او په دي ورورستیو وختونو کي دکرنې اومالداري وزارت دچارواکو دپاملرني او دننگرهار ولايت دکرنې اومالداري ریاست دمنسوبینو ... ٤ مخ

دریاست الوزراء اقتصادي مرستیال دکابل سیلو یو افتتاحیه غونډه کي :

دهیواد ودانی او سمسورتیا داسلامی امارت سترارمان دی

دهیوادوالو دسوکالۍ لپاره مورغنده اقدامات ترسره کړی دی

ملی پانگوال باید د هیواد په بیاودانولو کی خپل مسولیت سرته ورسوی

کابل - باختر :
دمرکزي سیلو لومړي نمبر ژرنده پرون دریاست الوزراء داقتصادي مرستیال محترم مولوي عبدالکبیر لخوا پرانستل شوه په دغي غونډه کي چي له همدي امله جوړه شوي وه . دسوداگري وزیر محترم ملا نا عبدالرزاق دلوړوزده کړو وزیر محترم قاري دین محمد حنیف داطلاعاتو اوکلتور وزیر محترم مولوي قدرت الله جمال دسوداگري وزارت معین محترم مولوي فضل محمد فیضان دعامي روزغتیا وزارت معین محترم شیر محمد عباس ستانکزي او بو شمیر ... ٤ مخ

دغوری اوهرات دسمنتو او دبغلان دبوری دفابریکو دبیا فعالیدو په اړه خبری وشوی

کابل - باختر
دکانو او صنایعو وزارت معین محترم مولوي سعید الرحمن حقاني پرون په کابل کي دپاکستان داسلامي جمهوریت له سفیر محترم عارف ایوب او ددغه هیواد د امت تعمیرتو موسسي له رئیس محترم سلطان بشیرالدین محمود سره وکتل په دي کتنه کي چي داسي حال کي چي دپاکستان داسلامي جمهوریت دوه تنه انجنیران هم حاضر و دواړو خواوو دغوري سمنتو ددویمي ... ٤ مخ

دامر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت

دملکی او نظامی ادارو فعالیتونه وڅیړل شول

کابل - باختر :
دامر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت دملکي اونظامي ادارو کره وړه او فعالیتونه پرون دیوي غونډي په ترځ کي وڅیړل شول . په دي غونډه کي چي دامر بالمعروف اونهي عن المنکر وزارت دملکي ... ٤ مخ

ترکیه را فساداداری فراگرفته است

انقره - باختر:
تانسوچیلر صدراعظم سابقه ترکیه ورهبرکتوني حزب را ه راست آنکشور تاکید کرده است که بحران کنوني ترکیه ناشي از ضعف سیستم سیاسي، سره اداره وعدم تطابق حکومت با قانون درکشور میباشد نامبرده ضمن اشاره به فساد اداري عمیق ووسیع که ترکیه را فراگرفته است ص ٤

از جانب هلال احمر ایران ۵۰۰ تن آرد براي بیجا شده گان افغان مساعدت صورت گرفت

کابل - شریعت :
اخیراً براي ۳۰۰۰ خانواده بیجا شده ولایت بامیان ۳۰۰ تن آردمساعدت هلال احمر ایران توزیع گردید محترم مولوي عبدالرقیب وزیر شهداومهاجرین ص ٤

دلوبو لارو دمحصولي زنځیرونو څرنگوالي څیړل کیږي

کابل - باختر :
دلوبو لارو دمحصولي زنځیرونو دکار او فعالیت د توحید او سمون په خاطر مؤظف هیأت پرون دهیواد جنوب لوری ته ... ٤ مخ

بین چین وپاکستان هفت موافقتنامه به امضاء رسید

اسلام آباد - باختر :
رهبران جمهوري اسلامي پاکستان وچین همکاري هاي دوکشور درتمام عرصه ها از جمله اموردفاعي واقتصادي را مورد تاکید قرار داده ص ٤

دنړیوالي ژغورني کمیته مهاجرینو ته روغتیایی مرکزونه جوړوي

کابل - باختر :
دنړیوالي ژغورني کمیته په دننه کي بي ځایه شویو کسانو پام کي لري چي دافغانستان په او په بهرکي میشتو افغاني ... ٤ مخ

راه اندازي مظاهرات علیه رژیم صهیونستي دراردن ادامه دارد

منابع خبري جهان -باختر :
مظاهرات گسترده ئي بروز دراعتراض علیه رژیم صهیونیست در عمان پایتخت اردن براه انداخته شد این مظاهرات دراعتراض به تشکیل رژیم صهیونیست پنجاه وسه سال قبل برگزارگردیده بود مظاهره کننده گان علیه رژیم صهیونیست شعارداده وخواستارخروج هرچه زود تر اشغالگران از قلمرو هاي اشغالي عربي شدند پولیس سعي ورزید تا مظاهره کننده گان را متفرق سازد درنتیجه برخورد میان طرفین رخ داده وسبب جراحت چندین تن گردید .

طوفان شدید دربنگله دیش ۲۶ کشته ویکصدمجروح بجا گذاشت

منابع خبر جهان: باختر:
رقم تلفات ناشي از طوفان چند روز گذشته درکشور بنگله دیش به ۲۶ کشته و حدود یکصدمجروح بالغ گردیده است مسؤلان محلي إعلام کرده اند این تلفات از اثر فروریختن منازل مسکوني وبا اصابت صاعقه به میان آمده است گزارشات حاکي است طوفان شدید و باران دیروز نیز در بنگله دیش جریان داشت این طوفان به مزارع برنج وزمینها ي زراعتي نیز خسارات زیاد ي وارد کرده است

سرمقاله
دلوي خداي (ج) په نامه

زمونږ لویدیځ سرحد اودایران ذمه واری

څووروځي مخکي یو ځل بیاد هیواد په لویدیځ پوله کي وسلوالو داړه مارو دسولي او امنیت خرابو لو هڅه وکړه چي دلو ي خداي «ج» په مرسته او دوینو موظفینو په سربښندنه دبرژر له پښوونو رخول شول خو څرنگه چي دالو مړي ځل نه دي ، بلکي مخکي هم دادول پیښي تکرارشوي او دیر ځله وسله والو دلو داپران له پولي په را تیر یدو زمونږ په سرحدي ٢ مخ

داکتر عبداللهبن محسن الترکي :

غربیان دی داسلامی احکامو قانونیت ومنی

درابطة العالم الاسلامي مشراو دسعودي دسترو علما و دولي غړي داکتر عبدالله بن محسن الترکي هیله څرگنده کړي چي بایډ دبشري حقوقو غربي تولني دانساني حقوقوپه ټاکنه او څرنگو الي کي له اسلامي قوانینو گټه واخلي او هغه احکام دي وپېژني چي اسلامي ٤ مخ

درولایت سمنگان :

کورس تربیه دایه هاي محلي پایان یافت

سمنگان باختر :
کورس تربیه دایه هاي محلي که درچوکات انجمن رهنماي خانواده کلینیک سره میاشت ولایت سمنگان تدویر یافت بود دیروز پایان یافت درمحفلیکه بدین مناسبت ترتیب یافته بود عده از مسؤلین ادارات امارتي وموسفیدان آنولایت ص ٤

گرانو هیوادوالو! خولی توبی کړی ترڅود پردیو له احتیاجه خلاص شی

شریعت

دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دبوي گڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کې (۳) کلداری
پست بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱- توزیع او شکایات : ٦٢٨٥٩
جاري حساب : ٤٠٣٨٥/٧ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالی پاتي برخه

امنیتي پوستو بربدونه کړي، امنیت بي خراب کړي او بېرته دایران خاوري ته او ښتي دي چي په دي لړکي بو زیات شمېر ژوند ي هم نیول شوي دي . نو له همدي امله اوس دادایران ذمه واري ده چي دگاونډ ښتوب نړیوال اصول او مقررات مراعات او په دي هکله خپل مسؤلیتونه ترسره کړي . که څه هم د ۱.۱ له مخالفینو سره دایران پوځي ، سیاسي او اقتصادي مرستي له هیچاپټي نه دي او له مشهد نه ترکولابه پوري دهغوي منډي تړړي په ډاګه ځرگندي دي چي په دي باره کي هم باید مثبت گامونه واخیستل شي او له افغان ولس سره نور داسي له دښمني ډک چلند ونه شي . خو بیا هم افغان ایران پوله ددواړو هیواد و په اړیکو کي پریکنده رول لري او یقیناً وېلاي شو چي دپولي په اوږدوکي هر ډول تاوتریخوالي دواړو هیواد وته بي درکه زیان رسوي له بلي خوا ښکاره ده چي دسرحد په اوږدوکي دو سله والو ډلو داډول فعالیتونه له ټو لو نړیوالو موازینو ځرگنده سرغړونه او په گاونډیتوب کي لوي جنایت دي دافغانستان اسلامي امارت په دي ښه پوهېږي چي بنایي بو شمېرشراچوونکي تل هڅه کوي دایران – افغانستان ترمنځ دښمني اوتریخوالي رامنځ ته‌کړي خوداچي مونږ له اسلامي اصولوسره سم دټول امت بووالي اوپیوستون غواړو نوځکه په دي لړکي محتاط چلند غوره کوو او نه غواړو له اسلامي هیوادو نو سره دوړو جز ئیاتو په سر ناندري او جنجالو ته پیل کړو . مثلاً؛ په دي وروستیوکي دهرات چاودنه بوه ډېره پېچلي موضوع ده خو بیاهم مونږ له احتیاط او زغم نه کارواخیست او داسي موانگېر له چي غالباً دابه دهغو شرېرانو کاروي کوم چي ددو اړو هیوادو ترمنځ واټن زیاتول غواړي او داسي نور ډېر موضوعات چي طبعاً په بوه شریک چاپېر یال کي دپېښېد وامکان لري نوپه همدي اساس دافغانستان اسلامي امارت بو ځل بیا غوښتنه کوي چي باید ایران دگاونډیتوب داصو لو په مراعاتو لو سره دسرحد په اوږدوکي خپل نړیوال فرایض درک او دهغو فعالیتونو مخه ونیسي چي ددواړو ولسونو اړیکي خرابوي او دتاوتر یخوالي او دښمني باعث گرځي .مونږ هم په خپل وار له ټولواسلامي او گاونډیو هیواد وسره د ښه ژوند ، دوستي او تودو اړیکو غوښتونکي یو . والسلام

PERSONALTY

شخصیت

له بېر نیو منابعو څخه :

دغلام سخي اقرژباړه

کله چي څوک وایي هغه بیل سري «شخصیت نه لري » په عمومي توگه دهغه مطلب داوي چي هغه سړي موثرانسان نه دي ، تینگړ تیاوي لري او په دي توگه دهغه دناخوبي ځرگندونه کوي او زیات شمېر دغسي مسایل . او کله چي وایي هغه سړي «ښه شخصیت لري » نو داسي ښکاري وایي چي هغه ښه او موثر سړي دي او دهغه خوښېږي . . . او داسي نور . خود شخصیت پېژندلو په علم کي موضوع داسي نه ده . پرسونولوژي Personology [دشخصیت پېژندني پوهنه] په دي باره کي دانسان ټولنیزي جاذبي ته نه گوري چي دچا خوښېږي او دچا نه خوښېږي بلکي دهغه ځانگړي سجیې او کردار ته متوجه وي . داهم په جوته شي چي دهغه دسجیې او کردار هغو عناصرو ته توجه لري چي په نسبي توگه دهغه په وجود کي تر یوه حده پوري موجود وي او ځانگړتیاوې لري او دسجیې او کردار هغسي عناصر وي چي په نسبتي توگه ترنورو عناصرو په زماني څرکت کي دزیات عمر خاوندان وي . په دي کي شک نشته چي انسانان بدلون مومي دهغوي سجایاوي او کردارهم بدلون پیدا کوي خو ددې دسجیې بو شمېر عناصر دهغو دورځني ژوند نه بېلېدونکي عناصروي همداسبب دي چي د شخصیت بو مثل شوي تعریف نه وړاندي کېږي . تعریف : دانسان دسجیې اوکردار هغو برخواو عناصرو ته چي په نسبي ډول سره ترکیب شوي وي او دانسان دورځني ژوند عمده برخه وي شخصیت ویل کېږي په دي ډول شخصیت دسجیې دهغو عناصرو مجموعه ده چي له هغو څخه په گټې اخیستو سره انسان خپل چاپېریال ته ځواب ورکوي . دغه چاپېریال څوټولنیز ،فرهنگي . . . او سیاسي عناصر لري . شخصیت یا دلاتیني کلیمي PESONA چي دقیقه معني یې « ماسک » - نقاب یا دبوي وسیلي په واسطه دمخ پټول دي څخه مشتق شوي دي . د تمثیل په صحنو کي هنرمندان ددي لپاره چي دډول ډول شخصیتونه تمثیل کړي له « ماسک Mask » څخه کار اخلي خو کله چي وابو هغه سړي دښه شخصیت خاوند دي ، د پرسونا مفهوم تغبیر کوي او په حقیقت کي دلته مثبت سړي ته اشاره کېږي . هیپوکرات یوناني طبیب (460 -377 B C) دانسان دوجود د مایعاتو له مخي شخصیتونو ته کتنه کوي تر څو کلي نتیجي ته ورسیږي او هم کوښښ کوي له جز څخه کل ته ورسیږي او په دي ډول قاعده منځ ته راوري داهم بولوي او خوراعلمي پېچلي بحث دي . سیزاري لمبراسو (cesare Lombroso)(1836-909) ان لا جنایت کاران هم په گوتوکوي او دهغو دځیروخصوصیات یا نوي چي په پولیسي مقاماتوکي تراوسه هم گټه تري اخیستل کېږي وېلیام شکسپیر هم دشخصیتونو او دهغو دکتگوریو په هکله غږېدلي او په دي باره کي یو شعر هم لري .ټولنیز . . او فرهنگي چاپېریال دشخصیت پرجوړښت ډېري اغېزي لري . ساده مثال یې دادي چي آن په بوه هیواد او دلو میراسو په عقیده، په بوه نسبتاً وروستیمه کي هم داسي ځانگړي عناصر شته چي دشخصیت پرجوړښت باندي اغېزه کوي . شخصیت دانسان دفکري لوړتیا له پوړیو نه دتېرېدو په پروسه کي زیات رول لوبوي په لوېدیځ یو هیواد کي شخصیت او دانسان تحصیل ته ډېر اهمیت ورکوي او وروسته یيا دندي ورته سپاري پورتني لیکوالان دشخصیت په هکله دهغه ډولونه ، اغېزي عصبي ، روحي او عقلي برخي یخپل کتاب کي ترکیتني لاندي نیولي چي تردي (۱۵) زره کلیمي دي خو مونږ به اوس په همدي لنډو معلوماتو اکتفا وکړو .

ددیني مدرسو په هکله یوه مشوره

مولوي عبدالله

ددي لپاره چي زمونږ مسلمان او په مذهب او روحانیت معتقد ملت پس له دي چي کلونه کلونه ددهریت او لامذهبیت باطل ، مردود او زهرجن عقاید ، نظریات او افکار په کي خواره شول او څه تعداد افرادمسموم او منحرف هم شول چي کاملاً مسلمان ملت جوړشي ، اسلامي ماهیت مذهبي او روحاني تشخص او حیثیت ئي باقي او محفوظ پاتي شي ، دسوچه او پاکي اسلامي معاشري خاوند ان شي نو داخبره ډېره ضروري او لازمي ده چي ددوي اختلاط ، تعلق او ارتباط دي له علما وسره په مکمل طور مجدداً تامین شي .په تېر ووختوکي سره له دي چي دحاکمانو له خوا علم، دین او علما و ته څه اعتنانه کېده خو بیاهم دعام ملت تعلق او اختلاط له علم او عالمانو سره په کافي اندازه برقرارو . داځکه چي دهر قوم او قبیلي په سطحه په کلیو او محلاتوکي درسونه موجودو ، په درسونوکي به ډېرطالبان دائماً له کلیو الو سره په تماس کي و کلیو الو به په ډېره مینه او محبت دمدرس او طالبانو پالنه کوله داخلاص په چوکاټ کي به ئي پرته له دي چي کوم فشار او اجبار ترمنځ وي دهغوي داعاشي اوا باتي پېټي او تکلیف په غاړه اخیسته او دابي خپل مسولیت او ذمه واري گڼله.

له بله طرفه معروف او مشهور روحاني مراکز موجودو .د شریعت په لباس ملبس مشایخ عظام موجود و چي قسمت اعظم دملت ورته ارادت درلود، دهمدي ارا دت په برکت ئي له دین او ددین له پیشوا یانو سره دمحبت او اخلاص روحیه او احساس ژوند ي پاتي و ، دهمداسي اختلاط او تعلقاتو برکات او مثمي نتیجي وي چي دتاریخ په هر مقطع کي کله چي ددښمنانو له خوا تجاوز شوي افغان متدین او مسلمان ملت ددین دمقتد یانو علما و او مشایخوپه فتوي او فیصلي عملاً قیام کړي له عقیدي دین او وطن څخه ئي دسر ، مال ، اولاد اوناموس په قر بانولو دفاع کړي چي له انگرېزي استعمار او همدانې دي تاریخ کي له روسي استعمارسره د دي ملت لاس او گر بوان کېدل او حېرانونکي مقابله او جهادني دمدعي دثبوت قوي دلیل او شاهد دي . اوس لله الحمد چي اسلامي امارت دطالبانواو علماو په قیادت رامنځ ته شوي ، اسلامي نظام قائم شوي دي په دي کي هیڅ شک نشته چي دماضي په نسبت دعلم ، طالبانو او عالمانو زیاته پالنه کېږي حتي تر دي چي دامارت دعالي مقام دټولي توجه بوازني مرکز همداجهت دي . خوداچي دیني مدارس ټول در سمبت چوکاټ ته داخل شوي او طالبان هم ټول دغومدارسوکي جذب شوي داکثریت طالبانو هدف هم داگرځېدلي چي دبوه رسمي سند په لاس ته کولو سره کومه امارتي اداره کي رسماً توظیف شي . زما په نظر داکار څه ښه او مطلوب نتایج نلري بلکي دمستقبل په لحاظ ډېرمنفي اوخطرناک عواقب لري ځکه هغه تعلق او اختلاط چي ددرسونو په شکل کي دعلما و او عامومسلمانانو ترمنځ موجودو اوس بالکل ضعیف شوي فاصله ایجادشوي او دهغي کرکي اوحساسیت په نتیجه کي به چي عوام ئي طبعاً دهغو علما و په نسبت لري چي په رسمي وظایفو مشغول وي دافاصله لانوره هم پسي اضافه شي په تېرو وختوکي حتي هغو علماو چي په کلیو الي درسونوکي مشغول و دهغو طالبانو او علماو په نسبت چي به رسمي مدارسو کي شامل و عین حساسیت او کرکه لرله په هرحال سنت او عادت په دي جادي دي چي هیڅ نظام او اداره ولوکه دالله جل مجده ددین پاسداره هم وي پخپل حال باقي نه پرېږدي حتماً تغییراو تبدیل سره ئي مواجه کوي ځکه هغه جل جلاله حکیم ذات دخپل علم اوحکمت په مقتضا او دامتحان او آزمایش پخاطر اوضاع اوحالات ، اداري او نظامونه بدلوي خداي مه کړه الله پاک دي هغه ساعت او زمان نه راولي که چېري کوم بدلون او تحول رامنځ ته شي بله اداره او نظام جوړشي نوداخو واضحه خبره ده چي هغه اداره او نظام بیا په دي اندازه دیني مدارس په رسمي چوکاټ کي نشي زغملاي ، په دي اندازه او تعداد علما په رسمي ادارو او وظایفوکي نشي منلاي نو حتماً مدارس لغو او علما له وظایفو او حکومتي ادارو څخه کناره کېږي بیا به داطالبان چېرته درس وایي ؟ مدرس علما به بیاچېرته تدریس کوي ؟ دمدرسینو او طالبانو داعاشي او اباتي بوج . تکلیف او مصارف به څوک په غاړه اخلي ؟ طبعاًولس ته به مراجعه کوي خو داولس به هغه پخواني ولس نه وي . داولس به کلونه کلونه دطالب او عالم درس او تدریس څخه لیري پاتي شوي وي او ړي ئي دطالب او ملا له مصارفو سپکي عادت شوي حساسیت او کرکه ئي لاهم ورباندي علاوه شوي وي.

دابه داسلام او مسلمانانو په نسبت هغه خطرناک او تباه کوونکي حالات وي چي نړیوال کفرېي له ډېر پخوا په انتظار او اشتیاق کي شپي اوورځي تېروي ، دهمدي فاصلي دراپیدا کولو په منظور نقشي او پلانونه طرحه کوي او دتطبیق په جهت کي ئي بي حسابه لگښتونه هم کوي ځکه هغوي پوهېدلي چي دزور اوقوي په اعمال سره نشي کولاي مسلمانان له اسلام څخه بیگانه کړي بلکي داتشخیص ئي کړي چي دي هدف ته درسید وآسانه لاره داده چي ددین دپیشوایانو او عوامو ترمنځ فاصله ایجاد شي ددي اسلامي نظام پر خلاف بو لاس او بو آوازشوي دي له دي وېري چي دانظام ددین دپیشو ایانو او عوامود پیوستون اود همیشني تعلق او رابطي درامنځ ته کولو تقویت او ساتلو په جهت کي اساسي او گړندي گامونه اخلي او دي کارته ئي دخپلو اهدافو او پروگرامونو په سرکي ځاي ورکړي دي . نو ځکه ئي دړنگو لو په جهت کي متحد انه هلي ځلي شروع کړي دي بناء" باید داسلام اوددي ملت اسلامي د مستقبل په هکله دقیق فکر وشي او س هم لاوخت نه دي تېرشوي نه دي زما نظر دادي چي څه علما موظف شي خلکو ته دهمدغه ضرورت په باره کي معقول مواعظ وکړي دعلما و او عوامو ترمنځ دتعلق داهمیت په هکله داسي دلائل وړاندي کړي چي عقلاً هغوي قانع شي یقین او باورکړي چي له دي تعلق څخه پرته ایمان او عقیده دین او مذهب ټول زمونږ له لاسه وځي دامارت اسلامي دمعارف له چوکاټ څخه دي مدارس خارج او رسمیت ئي باید لغوه شي مدرسین او طالبان دي هغو ځایو نوته اعزام شي چي پخواهلته درسونه موجودو البته موظفو علما و به تردي مقدم ، ولس دي ته آماده کړي وي چي درسونه فعال کړي دپخوا په شان دمدرس او طالبانو دساتلو تکالیف په غاړه واخلي . امارت اسلامي دي الله پاک من فضله وکرمه ولطفه واحسانه قایم او دائم ولري هغه کولاي شي چي په درسو نو کي له مدرسینو او طالبانو سره لازمي مرستي وکړي .

روغتیا او تولنه

د دي پاڼي چلوونکي : سید یوسف «شریفي امرخیل»

آیا میدانید که چرس چیست؟

شریعت : چرس از جمله مسکنات توده در طبیعت فراوان می باشد. شیره چرس از قسمت فوقاني نبات یا به عباره دیگر از تخم وبرگ آن بدست می آید در شیره این بته یک تعداد مواد موثر طبي موجوداست که آنرا به سه نوع تقسیم نموده می توانیم . یکي کانا بیدول - دیگري کانابیول - وسومي تیترا هیدور کانابیزول است کانا بیدول وکانا بینول به شکل بلوري بوده اما سومي آن به قسم تیل میباشد. ازچرس یک حالت او فوري با خوشي غیر طبیعي حاصل واز استعمال آن اعتیاد پیدامی شود تاثیرات چرس مشترک تنبیهي وانحطاطي بالاي عصب مرکزي داشته و بنا برآن از اشتراک این دو تاثیر یک حالت نیم شعوري توام با خنده ها برمسامات و تخیلات تولیدمی شود. اشکال اشیا ووقت درنظر شخص چرسي تغییر می کند. تحت تاثیر چرس اعتیاد پیدا واما با ترک آن مانند سایر مواد اعتیادي سندروم او بستن تولید نمي شود از استعمال چرس یک حادثه فرط خواهش تناسي حاصل مي شود واما فعالیت تناسلي موجود نمیباشد تحت تاثیر چرس ،چرسي ها در عالم او فوري «خوشي غیر طبیعي » حس مي کنند که درآسمان ها ودر عالم عیش وطرب سیرمي کنند واز همین سبب همیشه چرسي ها در عالم خود بال وپرمي زنند .شخیصي بیولوژي چرس : براي حصول شخیصي بیولوژي چرس از سگها ،پشکها وخرگوش ها استفاده به عمل آمده وکار گرفته مي شود. اگر یک ماده مشکوک را درحیوان زرق نمائیم دوعلامت ذیل ظاهر می کند.

اول حادثه اتاکسي ، دوم یک علامت مخصوص بنام علامه سکراچنیک با حالت وارخطابودن وپنجال زدن بیجا این دوعلامه مخصوصاً درنزد سگ ها وپشک ها از اثر خوراندن ویا زرق هاي چرس حاصل مي شود. اما براي حصول **نتیجه درخرگوش ها باید عملیه تغییر داده شود به این ترتیب که از خلاصه آبي چرس از داخل ورید زرق شده در حیوان فلج قرنیه حاصل مي شود .**

«شاگرد»

تراخم دانسان دسترگو ډېره اپیدیمي ناروغي ده

نړېوالي خبري منابع:

د تراخم یا دکوکري د ناروغي د مخنیوي لپاره په تیر وماښین باندي د حیرانوونکي اغیزي یوه نوي څېړنه چي دسترگو د ړندېدو مهم عامل دي ثابته شوېده دده غي څېړني نتیجه د ملفیک دطبي مجلي دجنوري دمیاشتي د ۲۱ نېټي په گڼه کي خپره شوېده .تراخم د انسان دسترگو ډېره اپیدمي ناروغي ده چي لرغونتیا یې ډېرو زیاتو کلونو ته رسیږي .په افریقایي ،امریکائي ،لاتیني امریکا او آسیایي هیوادونو او په منځني ختیځ او استرالیا کي په کال کي تر دي شپږ ملیونه تنه په دي ناروغي اخته کیږي چي نیمایي ددوي دسترگو ړندېدو سبب شي تراخم دسترگو دبارخو گانو دکوږتي برخي دالتهاب یوه د رډوونکي ناروغي ده چي علت یې دکلامیډیا په نامه میکروب دي . په سترگوکي دغه دالتهاب له امله یوه چیپناکه ماده ترشح کیږي او دغه ناروغي ماشومان له نورو سره دتماس له لاري لیږدوي مجان چي ددغي ناروغي له امله رامنځته شوي افرازات دغوي له سترگو څخه جذبوي ، نورو اشخاصوته دتراخم دناروغي دلیږدوني سبب کیږي. ددغي ناروغي له دواه ورورسته بارخوگان دسترگو داخلي برخي ته انحنا پیداکوي او سترگوته زیان رسوي. له ۱۹٥۰ میلادي کال را په دېخوا ددغي ناروغي علاج او درملنه دتراسکلین انتي بیوتیک مرهم دتطبیق په واسطه ترسره کیږي . په دي ترتیب چي یوه اندازه دغه مرهم په مستقیمه توگه په ورځ کي دوه ځلي دشپږ واو ونیمو لپاره دبارخو گانو په پورتني برخه وهل کیږي. دکوچنیو ماشومانو په سترگو کي ددغه درمل استعمالول سخت کار دي چي زیاتي تجربي او لازم احتیاط ته اړتیا لري .خو دکلیفورنیا له پوهنتون څخه پروفیسور تورمن سکت چي اوږده او زیاته تجربه لري او په دي باب یې زیات کار کړېدي وایي : داسترومایسین په نامه دیل قوي انتي بیو تیک پیدا کیدل دتراخم تداوي اسانه کړېده په دي مرهم سره تداوي د هغو څوکارونو له جملي څخه شمېرل کیږي چي د تراخم دناروغي د کنترول او مبارزي لپاره دنړي د روغتیایي سازمان لخوا تجویز کیږي ، او نور تدابیر عبارت دي له :دمخ مینځل او دروغتیا او نظافت عمومي رعایت کول .

دوېنو دسرطان ددرملني لپاره نوي دارو درمل

نړېوالي خبري منابع باختر :

څېړونکو دوېنو دسرطان دناروغي دعلاج او درملني لپاره نوي درمل برابرکړي دي. ددغو څېړونکو دڅرگندونوله مخي هغو تولو ناروغانوچي دگیلي بیگ په نامه دغه درمل یې استعمال کړي دي دوینو سلولونه یې په طبیعي اندازه پراتستل شوي دي او **په ځینو ناروغانوکي دناروغي نښي نښاني بېخي له منځه تللي دي . څېړونکي په دي باوردي چي دغه نوي درمل دوېنو د سرطان دناروغي دعلاج او درملني لپاره ډېر گټوردي .**

واکسین فلج اطفال از بازار خارج میگردد

شریعت : دربریتانیا اعلاء گردیده که بخاطر شیوع مرض جنون گاوي ویکنوع مرض دیگر انساني واکسین فلج اطفال که براي مصونیت کودکان ونیزمسافرین مورد استفاده قرارمی گیرد از بازار **خارج مي شود . علت این تصمیم انتقال نوعي از بیماري جنون گاوي است که انسان به آن مبتلا مي شود مقامات حفظ الصحه بریتانیا مي گویند:** استفاده ازمواد گرفته شده از گاو براي تهیه این واکسین با دستور العمل هاي صحي مغایرت دارد. این واکسین منحصراً دربریتانیا مورد استفاده قرار گرفته ومقامات حفظ الصحه بریتانیا تاکیدمي ورزند خطر اینکه انسان به مرض جنون گاوي که مخصوص انسان است مبتلاشود ، بسیار کم **ونادراست از این به بعد به عوض واکسیني که استفاده ازآن ممنوع گردیده است براي فلج اطفال از واکسین دیگري استفاده خواهد شد. این واکسین حتي درکارخانه، دیگري غیر از کارخانه منحصر به آن تولید مي گردد .** امین

شصتمین سالگرد ظهور پنسلین درطب

شریعت : شصت سال پیش پنسلین اولین بار به عنوان یك انتي بیوتیك براي بهبود وعفونت ها به کار رفت ونتیجه بسیار خوبي داد. از آن پس دیگر عفونت هامر گبار نبودند وبه راحتي مي شد با آنهامعامله کرد. یك دانشمندطب دراین باره مي نویسد که پنسلین چطور کشف شد وچه نتایجي به بار آورد : درسال ۱۹٤۱ یعني شصت سال قبل در شهر اکسفورد در بریتانیا یك مامور پولیس که بشدت بیمار و در بیمارستان بستري شده بود درآن هنگام جنگ جهاني دوم ادامه داشت و اطراف بیمارستان بمباران مي شد مامور پولیس مورد بحث درائر عفونتي که خار یك گل سرخ در دستش ایجاد کرده بود در حال مرگ بود. درحالیکه حال او رو به وخامت میگذاشت داکتران براي این مریض تجویز مقدار بسیار کمي از دواي تازه راکه هنوز عملاً آزمایش نشده بود شروع کردند . روز بعد حال بیمار رو به بهبود گذاشت ولي بعداز تمام شدن دوا بیمار پس از سه هفته درگذشت این دوا پنسلین و اولین نوع انتي بیوتیکي بود که بسیار موثر است .قبل از کشف این دوا مردم درائرعفونت هاي معمولي جان خودرااز دست میدادند . کشف این دواي مهم توسط الکساندر پلیمین صورت گرفت که مکروب شناس بود وقبل از تزریق پنسلین به مامور پولیس بیمار، ده سال برروي این دوا کار کرده بود. این مرد دانشمند از تاثیر محدود انتي بیوتیك آگاه بود ولي هنگامي که در پایان جنگ جهاني دوم در باره آن صحبت میکرد از موفقیت خود کاملاً خوشحال بنظر میرسید: او مي گوید: زمانیکه پنسلین در اختیار عموم مردم قرار بگیرد از آن براي مقابله با بسیاري از عفونت هاي مکروبي که پنسلین اصلا تاثیر روي آن ندارد استفاده خواهدشد که این خود باعث اتلاف وقت وبه هدردادن پنسلین مي شود. اما استفاده از پنسلین در این مواد به غیر از سرخوردگي کسانیکه آنرا مصرف کرده اند ، ضررهاي نخواهد داشت ومن قبلاً هم گفته ام که پنسلین نمیتواند هر نوع بیماري راعلاج کند اگرچه پنسلین با بسیاري از مکروب هاي که باعث بروز عفونت در انسان مي شود مي تواند بخوبي مقابله کند ،ولي بسیاري ازبیماري هاي دیگرمثل سل، اسهال خوني ، انفلونزا ، سرخکان وامثال آن در برابر پنسلین مقاومت دارند پنسلین تصادفي کشف شد .الکساندر پلیمین در لابراتوار خود ظرفي داشت که باکتري ها را دران کشت میکرد. یکبار هنگامي که به مسافرت رفته بود فراموش کرد روي این ظرف را بپوشاند هنگام بازگشت ظرف با کتري ها آلوده شده بودداکثر متوجه شد که این کار جلو رشد باکتري ها را مي گیرد .این شي دا راي ماده پنسلین بود که ازبین برنده باکتري ها ست پلیمین آنرا پنسلین نام نهاد ولي دودانشمند دیگرتکنیك تولید پنسلین را به عنوان یك دوا تکمیل کردند. در جریان جنگ اول جهاني زخم ها ي عفونتي سربازان باعث پانزده درصد مرگهاي ناشي از جنگ بود. ولي در جنگ جهاني دوم هنگامي که پنسلین وارد بازار شد مرگهاي ناشي از زخم هاي عفونتي تقریبا از بین رفت از هنگام کشف پنسلین توسط الکساندرپلیمین تاکنون انتي بیوتیك هاي کشف شده اند که با یك رشته از بیماري ها مبارزه مي کنند . حالا استفاده بیش از حد انتي بیوتیك ها سبب شده که بسیاري از باکتري ها در برابر **دواهامقاوم شوند وپنسلین مانند گذشته موثر نباشد وجود پنسلین نشان داد که چگونه مي توان با عفونت هاي میکروبي مبارزه کرد وبه این ترتیب جان ملیون هانفر را نجات داد .**

شاگرد

دپولیو دپسرلني کمپاین وروستي پړاو دېر ژر پیل کېدونکي دي

شریعت:

دپولیو یادماشو مانو دفلج پرخلاف دواکسناسیون دپسرلني کمپاین دریم او وروستي پړاو دروان میلادي کال دمي دمیاشتي له نولسمي څخه تر یو ویشتمي نیټي پوري چي دغوایي دمیاشتي له ۲۹ - ۳۱ نیټي سره سمون خوري په ټول هیواد کي پیل کیږي . په دغه پړاوکي ټول هغه ماشومان چي له پنځو کلونوکم عمر لري دپخوا ني واکسین نه په پام کي نیو لو پرته باید واکسین شي . دپولیو واکسین ماشومان دگوزڼ په ناروغي له اخته کیدو ژغوري څکه نو بنایي چي ټول هغه خوارده او گاللي ماشومان چي عمرئي له پنځو کلونو کم وي د واکسین دوه ځاځکي واخلي . داکار نه یوازي داچي ماشومان له ناروغي ژغوري بلکي زموږ هیواد افغانستان له دانوان ورکوي چي له نوردو هیوادو سره په گډه دغه ناروغي د ۲۰۰۱ میلادي کال په اوږدوکي دځمکي له مخ څخه محوه او ورکه کړي . نو ددغه راز پولو او ازوښتمن کار دبشپړ تطبیق او تحقق په خاطر لازمه ده چي زموږ ټول هیواد وال چي دهیواد په هرگوټ کي وي له پخوا د غه کمپاین دپلي کولو لپاره چمتو او اماده واوسي او خپل ماشومان واکسین کړي . دجوماتونو محترمو ملاامامان ، دمدرسو محترم ښوونکي او زموږ نور دبصیرت لرونکي هیوادوال دا مسولیت لري چي دجوماتونو دمنبرونو او ښوونځیو له لاري طالب العلمانو ته دواکسین دارزښت او اهمیت په باب معلومات ورکړي او خلک دي ته چمتو کړي چي خپل ماشومان واکسین کړي .

سید یوسف

اعلانات

فرید فرزند عبدالله خان یك باب دکان ملکیت بانك رهني وتعمیراتي واقع سینما پامیر را ماهانه مبلغ ششصد هزار افغاني براي مدت یك سال به کرایه میگیرد. مزایده کننده گان درخواست هاي خویشرا به مدیریت تعمیرات بانك رهني وتعمیراتي بسپارند وخودشان از تاریخ ۱٤۲۲/۲/۱۸ تاده روز مراجعه نمایند تضمین اخذ میگردد.

***

مارکیت کانتینري ریاست عمومي پما واقع مکروریان سوم به اجاره داداه میشود اشخاص وموسساتیکه خواهش قرارد اد آنرا داشته باشند درخواست هاي خویشرا بریاست عمومي پما واقع مکروریان سوم بسپارند وخودشان ازتاریخ ۱٤۲۲/۲/۱۸ تا ده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد.

***

مستوفیت کابل دکاکین مربوط خویشرا واقع چهاراهي طره باز خان باشخاص ذیل براي مدت سه سال قرارداد مینماید . محمد طاهر فرزند محمد امیر ماهانه مبلغ هشتصد وپنجاه هزار افغاني - عبداللطیف فرزند عبدالودودماهانه مبلغ هشتصد وپنجاه هزار افغاني - حفیظ الله فرزند علي بخش ماهانه مبلغ یك میلون وچهارصد هزار افغاني - محمد عزیز فرزند امیر محمد ماهانه مبلغ ششصد و پنجاه هزار افغاني - احسان الحق فرزند مطیع الحق ماهانه یکصدو پنجا ه هزار افغاني - عبدالحمید فرزند عبدالحسین ماهانه مبلغ سه صدو هزار افغاني مزایده کننده گان درخواست هاي خویشرا بمدیریت حفظ ومراقبت مستوفیت کابل بسپارند وخودشان از تاریخ ۱٤۲۲/۲/۱۸ تاده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تامینات اخذ میگردد.

***

شیرالله فرزندغلام حضرت یك باب خبازي امارتي شهرك قصبه را ماهانه به مبلغ دوصدو پنجاه هزار افغاني براي مدت یك سال قرارداد مینماید مزایده کننده گان درخواست هاي خویش را به تصدي خانه سازي بسپارند وخودشان از تاریخ ۱٤۲۲/۲/۱۸ تاده روز مراجعه نمایند شرطنامه راملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

***

وزارت امور خارجه مقدار بیست و چار هزار لیتر تیل دیزل درسال ۱٤۲۲ ضرورت دارد اشخاص وموسساتیکه خواهش رسانیدن آنرا طور قرارد اد داشته باشند درخواست هاي خویشرا بمدیریت خدمات وزارت امور خارجه بسپارندو خودشان از تاریخ ۱٤۲۲/۲/۱۸ تاده روز مراجعه نمایند شرطنامه ولست مشخصات را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد.

***

وزارت امور خارجه غرض فعال نگهداشتن وسایط نقلیه خویش به روغنیات وپرزه جات از قبیل مبلایل - ویکم - گریس- فلتر دیزل- فلتر مبلایل وغیره درسال ۱٤۲۲ ضرورت دارد اشخاص وموسساتیکه خواهش رسانیدن آنرا طور قرارداد داشته باشند درخواست هاي خویشرا بمدیریت خدمات وزارت امورخارجه بسپارند وخودشان از تاریخ ۱٤۲۲/۲/۱۸ تاده روز مراجعه نمایند شرطنامه ولست مشخصات را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد.

***

ریاست تصدي هوتل ها درسال ۱٤۲۲ براي هوتل هاي مربوط خویش به بیست و هفت قلم ترکاري تازه نظر به فصل سال ضرورت دارد . اشخاص وموسساتیکه خواهش قرارداد آنراداشته باشند درخواست هاي خویشرا بمدیریت خدمات ریاست تصدي هوتل ها واقع چهاراهي آریانا بسپارند وخودشان از تاریخ ۱٤۲۲/۲/۱۸ تا ده روز مراجعه نمایند لست مشخصات وشرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

***

ریاست عمومي تربیت بدني وسپورت عواید مسابقات ورزشي بایسکل نگهباني سال ۱٤۲۲ ستدیوم ورزشي کابل را مطابق به جنتري ورزشي به اجاره میدهد اشخاص وموسساتیکه خواهش اجاره گرفتن آنرا داشته باشند درخواست هاي خویش را به مدیریت خدمات ریاست تربیت بدني وسپورت بسپارند وخودشان از تاریخ ۱٤۲۲/۲/۱۸ تاده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد.

***

مستوفیت کابل به اطلاع آنعده داوطلبانیکه درخواست هاي شانرا قبلاً به مدیریت حفظ ومراقبت مستوفیت کابل سپرده اند مي رساند تا بروز هاي دوشنبه تاریخ ۱٤۲۲/۲/۲۰ غرض داوطلبي دو باب اپارتمان ۲۱و۲٤ ودکاکین مربطه آن واقع جاده میوند ودکاکین مربوط تعمیر ریاست خزینه تقاعد واقع سینما پامیر به مستوفیت کابل حاضر گردند شرطنامه را ملاحظه نموده مي توانند تضمین اخذ میگردد .

***

دیوان تجارتي محاکم کابل به اطلاع دوکانداران ومستاجرین مارکیت تجارتي مستوفیت کابل هریك معراج الدین فرزند برهان الدین - عبدالغني فرزند برات - جمعه خان فرزند محمد علي - خداداد فرزند میرگل -نیك محمد فرزند امیرمحمد - پاینده محمد فرزند امیر محمد - حیات الله -غلام محي الدین فرزند محمد حسین - محمد سرور فرزند غلام سرور-سیلم شاه فرزند ذرین شاه «انصاري شهرنو » میرزمان الدین فرزند میر نور الدین - سردار محمد فرزند حسن خان محمد حسن فرزند رضا محمد انور فرزند محمد عمر «جاده ولایت » وپاینده محمد فرزند محمد امین میرساند اگر-پانزده نفر دکانداران مستاجرین مارکیت تجارتي مستوفیت کابل ملکیت امارتي میباشد غرض حل وفصل موضوع نسبتي شان از تاریخ ۱٤۲۲/۲/۱۸ تایك ماه بریاست دیوان تجارتي محاکم ولایت کابل حاضر شوند درغیرآن فیصله غیابي بالاي شان صادرو آنگاه حق شکایت را نخواهند داشت .

دریاست الوزراء

نور و امارتي چارواکو گډون کړي و . دغونډي په پيل کي دافغانستان داسلامي امارت درياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم مولوي عبدالکبير دهيواد ټولګټيو اقتصادي پروژو او دامارتي اقتصادي تاسيساتو دبيا جوړولو په باب خبري وکړي او وي ويل مغرض هيواد ونه اوتولني دافغانستان په اسلامي امارت باند ي تورلګوي چي دامنيت له تامينو لو پرته په نورو اقتصادي او ټولنيزو برخو کي کوم بل برياليتوب نلري خو تيو لوته ثرګنده او معلومه ده چي داسلامي امارت ترواکمني لاندي سيموکي دسولي او امنيت له تامين سره جوخت دهيواد دملي اقتصاد دودي او دعامه خلکو دنيمکرغي او سوکالي په خاطر دتوليدي موسسو دبيا جوړولو په لاره کي ګټور او رغنده اقدامات شويدي . زه دافغانستان داسلامي امارت په نمايند ګي دهيواد له ملي سوداګرو څخه غوښتنه کوم چي دهيواد داقتصادي سيستم په بيا جوړولو کي ونډه واخلي ځکه اسلامي امارت په هيواد کي دپانګي اچوني لپاره هم دهيواد ملي سوداګرو اوهم بهرنيو سوداګروته لازمي او مناسبي زمينې برابري کړيدي . وروسته دلوړو زده کړو وزير محترم قاري دين محمد حنيف او دسوداګري وزارت معين محترم مولوي فضل محمد فيضان په وارسره دهيواد دملي اقتصاد دودي په لاره کي داسلامي امارت داقدامات په باب خبري وکړي . غونډه دجيد عالم او دجامعه فاروقيه دمدرس محترم مولوي حمدالله صاحب لخواد دعا يي په لو ستلو سره پايته ورسيده دبوه مسول خبرځاي دڅرګندو نو له مخي دمرکزي سيلو

لومړي لمبر ژرنده په بوه ورځ او شپه کي دوه سوه ټنه غنم اوړه کوي ددغه خبر ځاي دخبرله مخي دا ژرنده په مهاشت کي په دوه سوه شپېتو مليونو افغانيو دعابدلتد شرکت ته په اجاره ورکړشويده څرنګه چي اوسني ترون دپنځوکلونو لپاره له دغه شرکت سره لاسليک شويد ي په دويم کال کي په ټاکلو پيسو کي په سلوکي دبرش زياتو الي لري . مرکزي سيلو په ۱۳۳۵ هجري لمريز کال کي دسل جريبه ځمکي په ساحه کي جوړه شوه چي دوه ژرند ي لري چي هره يوه يي څلېروېشتو ساعتوکي دوه سوه ټنه غنم اوړه کوي دغه راز مرکزي سيلو ددودي پخولو دوه داشونه لري چي توليد ي ظرفيت يي په شپه او ورځ کي سل زره دودي د ي چي له بده مرغه دتيرو جګړو له امله يو داش يي بېخي وېجاړ شوي او بل داش يي په قسمي ډول فعال دي او په ورځ کي ديو کيلو ګرام په وزن څلورزره دودي توليدوي مرکزي سيلو دوه ذخيروي ګدامونه لري چي په يوه کي يي پنځه پنځوس زره پنځه سوه پنځوس ټنه او په بل ګدام کي يي دوه زره ټنه غنم ځايږي .

بين چين وپاکستان ...

اند زوران جي صدراعظم چين جهت يك ديداررسمي از پاکستان بخاطر تحکيم روابط دوستانه اقتصادي ونظامي ميان دوکشور وارد اسلام آباد گرديده است جنرال پرويز مشرف رئيس شوراي اجرائيو ي جمهوري اسلامي پاکستان درجريان اولين روز مذاکراتش بازوران جي صدراعظم چين هفت موافقتنامه اقتصادي از جمله درعرصه هاي معادن وخطوط آهن را امضاء کردند بازديد زوران جي از جمهوري اسلامي پاکستان مدت چهارروز ادامه مي يابد

په درونټه کي ...

دهڅواو هاند له امله بيا جوړيږي او ددغي پروژي د بيا جوړولو کار له شاه خالد لمتد سره قرار داد شويدي او ټاکل شويده چي د بيا جوړولوکار يي په ۱٤ مياشتو کي بشپړ شي خاورين بندونه شپږ پاخه بندونه او يو ستر کانکريټي بند دکيبانو دساتني او څارني او القاح په مقصد اودکنفرانس دخوني لابراتو اراو دنورو ضروري ملحقاتو په ګډون يوه پنځه پروېزه وداني يې شامله ده داسلامي امارت له بودجي څخه دشاه خالد لمتد لخوا په راتلو نکو اتومياشتوکي بيا جوړه شي .ددغي پروژي دبيا جوړولو کار دهغي غونډي په ترځ کي چي له همدي امله دپلان وزارت دمعين محترم مولوي غوث الله حقاني دفوايد عامي وزارت دمعين محترم مولوي محمد رستم حنفي دننګرهار ولايت دکرني اومالداري درئيس محترم مولوي عبدالمنان عابد دکرني اومالداري وزارت دمالداري خدمتونو دمحترم رئيس او ديو شمير امارتي چارواکو او منسوبينو په ګډون جوړه شوي وه دکرني او مالداري وزارت دمعين محترم مولوي عبدالسلام سعادت او دشاه خالد لمتد درئيس محترم شاه محمد لخوا پرانستل شو . ددرونټي دکبانو دتوليد پروژه په ۱۳٤۸ هجري لمريز کال کي جوړه شويد ه او دخپل فعاليت په لومړي کال کي يي پنځه څلويښت ټنه کبان توليد کړي و چي دتيروناورو پيښو له امله وېجاړه او له فعاليت څخه لوېدلي ده .

دروليت سمنګان ...

اشتراك نموده بودند درآغاز محفل محترم طبيب جمعه خان ومحترم طبيب محمد رفيع کارمندان بخش صحي زون شمال واستادکورس متذکره صحبت نمودند ونقش فارغان کورس را امرعرضه خدمات صحي به هموطنان برجسته ساختند بعدأدوتن از فارغان صحبت نموده درعرصه خدمت به هموطنان وعده دادند اين کورس مدت بيست ويك روز دوام داشت وبيست تن از شاملان کورس را بحيث دايه هاي محلي تربيه نموده است

دغوري او هرات ...

فاربريکي او دجلال آباد او بغلان دبوري د فابريکو او دهرات دسمنټو دفابريکي دبيا جوړولو په باب خبري اتري وکړي او دپاکستان لوري ددغوفابريکو دبيا جوړولو اومونتاژ په اړوند خپله علاقمندي څرګنده کړه او ددغو فابريکو دبيا جوړولو او فعا لولو په خاطر يي دکانواو صنايعو له وزارت سره دهر راز همکاري ژمنه وکړه . دبادونـي وړده چي دغوري سمنټو ددويمي فابريکي او دهرات دسمنټو دفابريکي دبيا جوړولو کار په سلوکي اتيا پېخوا پرمخ تللي و او په سلو کي شل يي نيمګړي پاتي دي

دامربا لمعروف او...

معين محترم مولوي عبدالحي په مشري او دکابل ولايت دامربالمعروف او نهي عن المنکر اداري درئيس محترم مولوي عبدالمتين دپلټني درئيس محترم مولوي محمد يونس آخند زاده دنظامي امربالمعروف دمنکراتو دمخنيوي دآمرمحترم مولوي عبدالکبير حقاني او ددغه وزارت دعالمانو دچارو دسمون درئيس محترم مولوي حکيم الله په ګډون جوړه شوي وه ددغو ادارو اجراات او فعاليتونه وڅېړل شول دنظريو له څرګندولو وروسته او دچارو د لا ښه والي او په خپل وخت دهغوي داجراکولو لپاره يو لړوراندېزونه وشول او لازم تصميمونه ونيول شول .

ترکيه را شاه...

گفت عدم مسئوليت پذيري وضعيف رهبري درترکيه به جدائي مردم از پارلمان منجر گرديده است وي افزود حل مشکلات کنوني نيازمند تغييرات عمده درنظام سياسي کشور بوده وبراي اين منظور طي چند هفته آينده برنامه را براي اصلاحات تسلم پارلمان خواهد کرد .

دلويو لاروه...

ولايتونو ته روان شو دلويولارو په اوږدوکي دحق العبورونو دزنځيرونو ترانسپورت او دښاروالي دچارو دتوحيد او تنظيم په اړوند دعاليقدر اميرالمؤمنين له فرمان سره سم دعدليي وزارت موظف هيأت ددغه وزارت دبين الدول دقوانينو درئيس محترم مولوي محبوب الهي په مشري چي په ترکيب کي يي دکورنيو چارو او دفوائد عامي دوزارتونو او داستخباراتو دافغانستان بانک او دترانسپورت دلويو رياستونو استازي شامل دي دورسپارل شوي دندي دترسره کولو لپاره پرون دهيواد جنوب لويديځو ولايتونو ته روان شو او ټاکل شويده چي دزابل ولايت په مرکز قلات کي خپل کار پيل کړي

دنړيوالي ...

مهاجرينو ته روغتيا يي مرکزونه جوړکړي . دهغي کتني په ترځ کي چي دعامي روغتيا وزارت دوقايوي طب لوي رئيس محترم ډاکټر آقاګل دوست پرون ددغه وزارت په مقرکي په نيويارک کي دنړيوالي ژغورني کميټي دروغتيا يي برخي مسؤل ښاغلي ريچارد چي بريښان او په پيښور کي ددغي کميټي دروغتيايي پروګرام له سلاکار ښاغلي روني دبيا لومړ سره وکړه په هيوادکي يي دروزغتيا يي چارو په اړوند خبري وکړي او دوقايوي طب لوي رئيس داوسنيو روغتيايي ستونزو په باب معلومات وړاندي کړل. وروسته په نيويارک کي دنړيوالي ژغورني دکميټي مسؤل څرګنده کړه چي دغه کميټه په پام کي لري په افغانستان کي دبي ځايه شويو کسانو دروغتيا يي ستونزو او مشکلاتو دلري کولو او دغه رازپه بهرکي دميشتو افغاني مهاجرينو دمشکلاتو دلري کولو په مقصد روغتيا يي کلينيکونه او مرکزونه جوړکړي . ريچارد بريښان زياته کړه چي دنړيوالي ژغورني کميټه هودمنه ده چي په روغتيا يي برخواو په تيره بيا دمهاجرينو دروغتيا يي حالت دښه والي په لاره کي په وقايوي او معالجوي برخوکي دافغانستان داسلامي امارت دعامي روغتيا له وزارت سره همکاري وکړي .

ازجانب هلال احمر..

امارت اسلامي پيرامون جزئيات اين خبر به خبر نگار ما چنين توضيحات داد : به سلسله کمك هاي قبلي هلال احمر ايران به مردم مستمند ونيازمندافغانستان اخيرأ يك هئيت مرکب تحت سرپرستي محترم محمود «رمضانيان » از جانب هلال احمر کشور مزبور غرض انجام مساعدت هاي بشري براي بيجا شده گان مناطق مرکزي کشور به کابل آمده بود که ۵۰۰ تن آرد را به همين مقصد به جانب وزارت شهدا ومهاجرين امارت اسلامي اهدانمود . وي افزود : وزارت شهداومهاجرين همزمان با اهدأ اين مساعدت در نخستين روز ۳۰۰ تن آرد را دررأس يك هيئت که در ترکيب آن نمايندگان محترم استاد اکبري نيزوجود داشتند به حصه اول و دوم بهسود هکذا قسمت از ولسوالي جلريز ميدان - وردك غرض تثبيت وسروي بيجا شدگان اعزام داشت که بعد از کوتاه مدت براي ۳۰۰۰خانواده بيجاشده ولايت باميان که همين حالا آنان درمناطق يادشده سکونت موقتي اختيار کرده اند توزيع نمود .موصوف علاوه داشت : ما اين اقدام نيك بشري هلال احمر ايران را درحاليکه وضعيت بيجاشده گان مردم افغانستان در داخل کشور نهايت دردناك بوده وسخت نيازمند همچو مساعدت ها مي باشند به ديده قدر نگريسته ورجامند کمك هاي بشري براي اين بيجا شده گان هستيم .

مهربان

غربيان دي ...

شريعت فرد، کورني او ټولني ته ورکړي دي او هغه څه چي دمسلمانانو په ژوند کي يي دحق او واجب ترمنځ دبوه بشپړ سمون دراوستو په هکله په خلکو لازم کړي دي او داځکه چي څوک داسلام له دغو ځانګړ تياوو ناخبره وي نو خامخا داسلام په باره کي غلطه پرېکړه کوي داخبري ډاکټر ترکي په ژنيوکي دنړيوالي ټولنې ترڅارني لاندي دبشري حقوقو په هکله يو ي غونډ ي ته داروپايي اتحاد له څرګندونو وروسته وکړي داروپايي اتحاد څرګندونو په ځينو هغو اسلامي هيوادونوچي شرعي حدود او احکام تطبيقوي اعتراض کړي و. نوموړي وويل :ځيني لوېديځوال لاتراوسه هم داسلام په هکله سم معلومات نه لري او داهو خو دناپوهي له لاسه او بل داچي ځيني حلقي له هغوپروپاګندوآغېز مني دي چي تل داسلام او مسلمانانو په هکله له دروا غو او دښمني ډک بهانونه خبروي چي په ځانګړي توګه يهودبان په دي هکله لوي لاس لري. ده زياته کړه: په اسلامي ټولنو له نيو کي وړاندي اسلامي اساساتو او ټولنيزو حقوقو سره آشنا يي په کارده ، هغه چي انسان ته يي دحق او عدالت يو يي مثاله نظام ورکړي او داهغه وخت سړي ته ښه څرګندېږي چي په اسلامي شريعت عمل کوونکي ټولني او په هغوکي امنيت ،دادګېرنه او سوکالي له غربي او نورو غيرملتزمو ټولنو سره مقايسه کړي شي ،کومي چي په بي ساري ډول له پريشاني ، ګډودي او زوزياتي نه په ځوراوکړاو اخته دي .

الشرق الاوسط

خبرتيا !

دشريعت اوونيزي ددرنو ګډون کوونکو دپاره وړا شريعت اوونيزه له خپلو ټولو ګډون کوونکو څخه په درنه هيله کوي چي په ټاکلو وخت اخبار دنه رسيدو په صورت کي دي په (٦٢٨٦٨) او (٦٢٨٥٩) شمېر ټيلفوني تماس ونيسي او له اړوندې اداري سره په تفاهم کي دي خپلي ستونزې لري کړي .

«اداره »

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor: **Abdurrahim "Saqeb"**
Editor: **Ghulam M. Farooq**
Printed by: Emirate's Printing Press